
هفته واره رساله

# د اعتکاف 10 مدني سپرلي

(پښتو)



- جذبه يې نوره هم زياته شوه
- د 70 کلن اسلامي ورور تاثرات
- د ملا د تير د هډوکي د درد نه نجات
- د ميلاوټ والا مسالې کاروبار يې بند کړو


شيخ طريقت امير اهلِ سُنّت حضرتِ علامه مولانا ابو بلال

محمد اِلياس عطّار قادري رَضَوِي دامت برکاتهم العاليه



ترجمه

TRANSLATION DEPARTMENT

(DAWAT-E-ISLAMI)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖن ط
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْم ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْم ط

# د اِعتکاف 10 مَدَني سپرلي [1]

دُعائے عطّار: یا الله پاکه! څوک چې دا رساله " د اِعتکاف 10 مَدَني سپرلي (قسط: 3) " ولولي یا واوري هغهٔ ته پهٔ رَمَضَانُ الْمُبَارَک کښې د ښه ډیر عبادت کولو سعادت ورعطا کړې او هغهٔ سره د مور او پلاره او سره د خاندانه جنَّت الفردوس ته بے حسابه داخل کړې- اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د دُرُود شریف فضیلت

د اخري نبي رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: د جُمعې پهٔ شپه او د جُمعې پهٔ ورځ (یعني د زیارت د ورځې د نمر پریوتو نه تر د جُمعې د ورځې د نمر راختو پورې) پهٔ ما باندې دُرُودِ پاک پهٔ کثرت سره لولئ، څوک چې داسې کوي د قیامت پهٔ ورځ باندې به زهٔ د هغهٔ شَفیع او ګواه جوړیږم- (شعب الایمان، 3/111، حدیث: 3033)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! ❀❀❀ صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## حَجرِ اَسوَد یې ښکل کړو

د ټنډو اَلله یار (بابُ الاِسلام سندھ، پاکستان) یو کَس خراب ماحول او د لوفرانو دوستانو صحبت پهٔ ګناهونو باندې زړور کړے وو، د شرابو اَدو ته تلل د هغوئي د پاره

---

[1] ... دا مضمون د امیرِاهلسنّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه د کتاب "فیضانِ رمضان" د صفحه 439 نه تر 450 پورې اخستے شوے دے-

معمولي خبره وه، د خلقو سره برناحقه جګړې کول، بغير د څۀ وجهې وهل ډبول د هغوئي عادت جوړ شوے وو- د دې عادتونو په وجه د کور هر ګس د هغوئي نه بيزاره وو، هغوئي هم داسې د ګناهونو په دَرو کښې ګرځيدو چې د هغوئي بخت رابيدار شو او د يو عاشقِ رسول د اِنفرادي کوشش په برکت د ټنډو اَللّٰه يار په نوراني جومات کښې د رَمَضَانُ الْمُبَارَک د مياشتې (1426ھ- 2005ء) د اخری عشرې د اِجتماعي اِعتکاف په سپرلو کښې شامل شو، په اِعتکاف کښې د عاشقانِ رسول د ګيرو او د عمامو والا نوراني مخونو او د هغوئي محبتونو او شفقتونو هغوئي د دعوتِ اِسلامي نه ډير متاثره کړو- اَلْحَمْدُلِلّٰه! شپه او ورځ د عاشقانِ رسول په صحبت کښې د پاتې کيدو سره هغوئي ډير څۀ زده کړل- په پينځويشتمه شپه په ذِکرُ الله کښې مشغول وو چې په هغوئي باندې پرکالي راغله او اَلْحَمْدُلِلّٰه! هغۀ ځان د کـعبةُ الله شريف مخې ته وليدلو، په هغوئي باندې نور کرم دا وشو چې هغوئي بے اختياره حجرِ اسود ښکل کړو- په اووه ويشتمه شپه باندې هم په هغوئي باندې کرم وشو او د پرکالۍ په حالت کښې يې د مدينے منورې د نوراني کوڅو او د شين ښکلي ګنبد د سپرلي د نظارو سعادت حاصل کړو- دې ايمان تازه کوونکو سلسلو د هغوئي د زړۀ دُنيا بدله کړه- هغوئي نيت وکړو چې دا دِيني ماحول به اوس ټول عمر نۀ پريږدم- اَلْحَمْدُلِلّٰه! د رَبِّ اَکرم په لطف او کرم سره هغوئي د دعوتِ اِسلامي په جامعةُ الـمدينه (حيدرآباد) کښې د درسِ نظامي کولو د پاره داخله واخستله-

دل میں بس جائیں آقا کے جَلوے مُدام ۔۔۔ دینی ماحول میں کر لو تم اعتکاف
دیکھو مکّے مدینے کے تم صُبح و شام ۔۔۔ دینی ماحول میں کر لو تم اعتکاف

(وسائل بخشش، ص 644)

## په خراب صحبت کښې د پاتې کيدو د ګناه نه نجات حاصل شو

د اورنګي ټاؤن (کراچۍ) يو ګس د خراب صحبت په وجه ماډرن او خراب بنده جوړ شوے وو- د خوش قِسمتۍ له کبله د خپلې علاقې په اَقصیٰ مسجد، اَورَنګي ټاؤن،

الفتح کالونی (کراچی) دننه پهٔ کيدونکـي د رَمَضَانُ الْمُبَارَک د مياشتې د اخرۍ عشرې مبارکې پهٔ اجتماعي سُنَّت اِعتکاف کښې د کښيناستو پهٔ برکت د عاشقانِ رسول ديني تحريک دعوتِ اِسلامي ديني ماحول ته راغلو، د نـمونځونو او د سُنَّت پابندي يــې هم شروع کړه، پهٔ هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې يــې د حاضرۍ عادت جوړ شو، د فلمونو او د ډرامو د خراب عادت نه ووتلو او اَلْحَمْدُلِلّٰه! يوه ډيره لويه فائده دا وشوه چې صرف د نفس د خوند پهٔ خاطر د خراب صحبت يــې چې کوم عادت وو د هغې نه هم هغوئي نجات حاصل کړو۔

صُحبتِ بد میں رہنے کی عادت چھُٹے　　دینی ماحول میں کر لو تم اعتکاف
خصلتِ جرم و عِصیاں تمہاری مٹے　　دینی ماحول میں کر لو تم اعتکاف

(وسائلِ بخشش، ص644)

صَـلُّوْا عَلَی الْحَـبِيْـب! ❁❁❁ صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## جذبې يــې نوره هم زياته شوه

د ملاکه (الٰه آباد، اتر پرديش، هندوستان) د يو اِسلامي ورور واقعه څهٔ داسې ده چې هغوئي پهٔ احمد آباد شريف کښې د هندوستان پهٔ سطح د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې شرکت وکړو، د دِين د خدمت يــې کافي جذبه نصيب شوه۔ هم پهٔ هٰغه کال د عاشقانِ رسول د ديني تحريک، دعوتِ اِسلامي د طرف نه د رَمَضَانُ الْمُبَارَک (1416ھ۔ 1996ء) پهٔ اخرۍ عشره کښې د ناګوري واړ جومات (احمد آباد شريف) کښې پهٔ کيدونکـي اِجتماعي اِعتکاف کښې مُعتکِف شو۔ د عاشقانِ رسول صحبت پهٔ هغوئي ډير ښه راغلو، نو د هغوئي ديني جذبه نوره هُم زياته شوه - د اِعتکاف نه پس خپل کلي ملاکه (اتر پرديش) ته لاړو او هغوئي پهٔ ديني کارونو کښې ښه ډيره برخه واخسته۔ پهٔ دويم کال د مَدَني مرکز له خوا مختلفو ښارونو ته لاړو او پهٔ سوؤنو اِسلامي ورونړو باندې يــې اِعتکاف وکړو۔ تر دې ليکلو پورې پهٔ احمد آباد شريف کښې اوسيږي او د دعوتِ اِسلامي د تنظيمي ترکيب مطابق د تَحصيلِ ماليات ذمه دار دے۔

آؤ عشقِ محمد کے پینے کو جام دیني ماحول میں کر لو تم اعتکاف
مَسْت ہو کر کرو خوب تم دیني کام دیني ماحول میں کر لو تم اعتکاف

(وسائل بخشش، ص644)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د 70 کلن اِسلامي ورور تَاثُرات

د ګارډن وَیسټ (کراچۍ) یو بوډا ګَس د بوډا والي باوجود **مَعَاذَ الله!** د نمونځ پابندي نهٔ کوله، د فلمونو ډرامو سره يې شوق وو، ګیره به يې خریله او انګریزي جامې به يې اغوستلې- تقریباً د 60 کالو عمر کښې پهٔ کوثر مسجد موسیٰ لین، لیاري (کراچۍ) کښې دننه پهٔ وروستیو ورځو کې د رَمَضَانُ الْمُبَارَک (غالِباً 1416 ھ- 1996ء) پهٔ اخرۍ عشره کښې د هغوئي د اِعتکاف سعادت نصیب شو- هلته ورته د دعوتِ اِسلامي د عاشقانِ رسول صحبت میلاو شو- هغهٔ پهٔ ګجراتۍ رَسم الخط کښې لیکلے شوے قرآنِ کریم لوستلو چې یو اسلامي ورور ولیدلو نو هغوئي پوهه کړو چې پهٔ عربۍ کښې لیکلے شوے قرآنِ کریم لوستل ضروري دي، د ګجراتۍ ژبې حرفونه به د عربۍ پهٔ اصلي مخارج کښې څنګه ادا کوې! هغوئي پهٔ خبره باندې پوهه شو- بهر حال پهٔ اعتکاف کښې د عاشقانِ رسول نه هغوئي ډیر فیض حاصل کړو- هغوئي د عاشقانِ رسول د دیني تحریک دعوتِ اِسلامي پهٔ مدرسة المدینه بالغان کښې لوستل شروع کړل- د یو نیم کال کوشش کولو نه پس د هغوئي څهٔ نا څهٔ حرفونه صحیح شول، اَلْحَمْدُلِله! پهٔ عربۍ کښې یې پهٔ کتلو د قرآنِ کریم لوستل نصیب شول- پهٔ هفته واره سُنَّتو ډکه اجتماع کښې یې د ټولې شپې د تیرولو شرف نصیب شو، پهٔ هفته کښې یې یو ځل د علاقائی دوره برائے نیکی کي دعوت کښې هم د شرکت کولو سعادت نصیب شو، اَلْحَمْدُلِله! هغوئي یو موټے ګیره هم پریښودله، د ظاهري اسبابو د کمۍ باوجود پرې دا کرم وشو چې د هغوئي

د عمرې شریف او د خوږې مدینے د حاضرئ شرف هم نصیب شو- اَلْحَمْدُلِلّٰه!هره میاشت یې د دریو ورځو پهٔ قافله کښې د سفر کولو سعادت نصیب شو، پهٔ 72 نیک اعمالو کښې د 40 نه پهٔ زیاتو نیک اعمالو یې د عمل کولو کوشش نصیب شو، پهٔ یو پرائیویټ فَرم کښې اکاؤنټنټ دے او سحر او ماښام ځي راځي، پهٔ بس کښې دننه یې د څلورو کالو راسې د نیکۍ د دعوت ورکولو سعادت حاصل کړو، یو ځل یې پهٔ خوب کښې د نیکۍ دعوت ورکړو او د فارغیدو نه پس د دعوتِ اِسلامي یو مبلغ د چا سره چې دوئي ډیر محبت کوي، هغهٔ د هغوئي مخې ته مُسکے تشریف فرما دے، دا ښکلې نظاره چې یې ولیدله نو پهٔ ژړا شو او سترګې یې وغړیدلې، د دې خوب د لیدلو نه پس د نیکۍ د دعوت پهٔ ورکولو کښې د هغوئي نور استقامت هم نصیب شو-

سیکھ لو آؤ قرآن پڑھنا سبھی     دینی ماحول میں کر لو تم اعتکاف

تم ترقی کے زِینوں پہ چڑھنا سبھی     دینی ماحول میں کر لو تم اعتکاف

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! ❁❁❁ صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د عربۍ نه علاوه پهٔ بَله ژبه کښې د قرآن آیتونه لیکل جائز نهٔ دي

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! تاسو وکتل چې تر څو پورې ښه صحبت نهٔ میلاوېږي تر هُغه وخته پورې بعضې وخت د اِصلاح څهٔ صورت نهٔ جوړیږي، نن سبا اکثر د زیات عمر خلق هم پهٔ قِسما قِسم ګناهونو کښې اخته پهٔ نظر راځي، تر دې پورې چې مرګ ته نزدې وي او پهٔ کټ پراتهٔ وي بیا هم د هغوئي د نـمونځ کولو، د دروغو او د غیبت نه د بچ کیدو او د ګیرې د خریلو وغیره نه د توبه کولو توفیق نهٔ نصیب کیږي، پهٔ داسې حالت کښې هم مَعَاذَ الله! پهٔ T.V باندې فلمونه ډرامې ګوري، د شِفا حاصلیدو سره صرف هم د دُنیا د کار روزګار کولو جذبه لري- دا د زیات عمر اِسلامي ورور خوش قِسمتي وه، د چا چې پهٔ اِعتکاف کښې دِیني ماحول نصیب شو او پهٔ غفلتونو کښې پهٔ تیریدونکې ژوند کښې یې یو دم مَدَني انقلاب راغلو-

تاسو وکتل چې هغوئي قرآنِ کريم هم نۀ وو وئيلے ځکه يــې پۀ ګجراتیۍ ژبه کښې قرآن شريف لوستلو، پۀ کومې چې يو عاشقِ رسول پوهه کړو نو د دعوتِ اِسلامي پۀ مدرسة الــمدينه بالغان کښې د شپې زده کولو نه پس پۀ عربیۍ کښې د څۀ نا څۀ لوستلو قابل شو- ياد ساتئ چې د عربیۍ ژبې نه علاوه پۀ بَله يوه ژبه مثلاً ګجراتیۍ، هندیۍ، انګلش رَسمُ الخط کښې قرآنِ پاک ليکل جائز نۀ دي- د ګجراتیۍ، هندیۍ، انګريزیۍ وغيره ژبو پۀ ماهنامو او نورو کتابونو او رسالو کښې آيتونه او ماثور (يعني د قرآن او حديث) دعاګانو وغيره پۀ عربیۍ رسم الخط کښې ليکل پکار دي- د حضرت مفتي احمد يار خان رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَيۡہ د يوې تفصلي فتوې عبارت وګورئ: " پۀ هندیۍ يا انګريزیۍ رسم الخط کښې قرآنِ کريم ليکل خو صريح تحريف دے (او د قرآنِ پاک تحريف حرام دے) چې اولاً: خو د بره ذِکر کړے شوو پابندو خلاف دے- دويم: پۀ سين، صاد، ثاء کښې، داسې پۀ ق او ک کښې، ز- ذ- ظ کښې به بالکل فرق نشي کيدے- مثلاً د ظاهر معنیٰ ده ښکاره او د زاهر معنیٰ ده پرقيدونکے يا تر او تازه- اوس کا تاسو پۀ انګريزیۍ کښې Zahir وليکلو نو د دې پته به څنګه لګي چې دا ظاهر دے او که زاهر دے- دغه شان تاهر او طاهر، قدير او قادر، سَامِع او سَمِيع، عَالِم او عليم کښې به څنګه فرق کيږي؟ غرض دا چې د الفاظو اوصاف خو پريږده چې پخپله به حرفونه هم بدل شي او معنیٰ به يــې هم ختمه شي-" (فتاوٰی نعيميه، ص 83)

میں قرآن سیکھوں سِکھاؤں خدایا

کرم سے یہ جذبہ میں پاؤں خدایا

## پۀ کور کښې يــې هم مَدَني ماحول جوړ کړو

پۀ رَمَضَانُ المُبَارَک (1426هـ- 2005ء) کښې د اِعتکاف ورځې بالکل نزدې وې، د راجوري (جمو کشمير، هندوستان) د يو اِسلامي ورور (عمر تقريباً 40 کاله) سره پۀ ملاقات کيدو د دعوتِ اِسلامي يو مبلغ هغوئي ته پۀ سَرسري توګه پۀ اِجتماعي اِعتکاف

کښې د کښېناستو دعوت ورکړو او هغوئي د عاشقانِ رسول د دِيني تحريک، دعوتِ اِسلامي د طرف نه پۀ مسجد ريلوے سټيشن (راجوري، جمو کشمير) کښې پۀ کيدونکـي د رَمَضَانُ المُبَارَک (1426ھ- 2005ء) د اخرى عشرې پۀ اجتماعي اعتکاف کښې معتکف شو- د عاشقانِ رسول دِيني ماحول چې يـې وليدلو نو حيران پاتې شو، ګيره مبارکه يـې پريښودله، عمامه شريف يـې پۀ سر کړه، د درس او بيان سلسله يـې شروع کړه، پۀ خپل کور کښې يـې هم دِيني ماحول جوړ کړو، د کور پۀ اِسلامي خوئيندو باندې يـې پرده نافذ کړه او تر دې ليکلو پورې پۀ خپل ښار ” راجوري“ کښې د مشاورت نګران دے-

زندگی کا قرینہ ملے گا تمہیں | دینی ماحول میں کرلو تم اعتکاف
آؤ در دِ مدینہ ملے گا تمہیں | دینی ماحول میں کرلو تم اعتکاف

(وسائل بخشش، ص 644)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! ❁❁❁ صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## ما به د رمضان روژې هم ډيرې کمې نيولې

د بَهلوال (ضلع سرګودها، پنجاب پاکستان) يو کَس بے نـمانځه او فيشن پرست زلمے وو او د فلمونو ډرامو کتلو، سندرو او سازونو اوريدو يـې ډير شوق لرلو، پۀ رَمَضَانُ المُبَارَک کښې به يـې روژې هم **مَعَاذَ الله!** ډيرې کمې نيولې، که چا به پوهه کولو نو دۀ به خبره نۀ منله- يوه ورځ هغوئي د څۀ معاملې پۀ وجه د پريشانی پۀ حالت کښې روان وو چې عمامه پۀ سر د يو اِسلامي ورور سره يـې ملاقات وشو کوم چې د عاشقانِ رسول د دِيني تحريک، دعوتِ اِسلامي د دِيني ماحول سره تعلق لرلو، هغۀ پۀ هغوئي باندې انفرادي کوشش وکړو او پۀ جامع مسجد کښې پۀ کيدونکـي د دعوتِ اِسلامي پۀ هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع ته يـې بوتللو، خو هغوئي د شيطاني وسوسو پۀ وجه لږ سعت

کښيناستو او بيا پاڅيدو او لاړو، دوه ورځې پس د هغوئي يو دنيا دار دوست هغوئي د فِلم کتلو د پاره بوتللو خو په څۀ خبره باندې دواړه وران شو او د يو بل نه بيل شو او داسې د هغوئي بخت رابيدار شو، داسې وشو چې د رَمَضَانُ المُبَارَک په مياشت کښې د هغوئي مشر وررور صاحب د دعوتِ اِسلامي د طرف نه په کيدونکي اجتماعي اعتکاف کښې معتکف وو، هغوئي د وررور جان خوا له لاړو، هلته عمامه شريف په سر عاشقانِ رسول د هغوئي ډير خوښ شول- د اختر په شپه باندې يو اِسلامي وررور د هغوئي وررور جان له د فيضانِ سُنَّت او د نعتونو کيسټ په تحفه کښې ورکړو، هٰغوئي اِسلامي وررور د فيضانِ سُنَّت نه د بے نـمانځه د سزاګانو په باره کښې باب ولوستلو نو ولړزيدو او په کيسټ کښې چې يـې دا مناجات

گناہوں کی عادت چُھڑا میرے مولا مجھے نیک انساں بنا میرے مولا

واوريدو نو په زړۀ زخمي شو- اَلْحَمْدُلِلّٰه! هغوئي سندرې سازونه اوريدل پريښودل خو د نـمونځ پابندي يـې ونـکړے شوه- د يو عاشقِ رسول په دعوت باندې د دعوتِ اِسلامي هفته واره د سنّتو اجتماع ته يو ځل بيا لاړو او تر اخره پورې پاتې شو، د اجتماع په ختميدو باندې د عاشقانِ رسول د ملاقات ښکلي انداز هغوئي په دعوتِ اِسلامي باندې مئين کړل- هغوئي مخ مبارک په مَدَني نخښه يعني ګيره مبارکه او سر په عمامه شريف باندې ښائسته کړو- پينځه وخته نـمونځ يـې د جَمعې سره شروع کړو او په سلسلۀ عاليه قادريه رضويه کښې داخل شو او د حضور غوثِ اعظم شيخ عبدُ القادر جيلاني رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه مُريد جوړ شو- د دعوتِ اِسلامي د ديني کارونو په لحاظ سره په تنظيمي توګه د ذِيلي مشاورت ذمه دار جوړ شو او په پابندۍ سره يـې د درس ورکولو سره سره د دعوتِ اِسلامي په مدرسـة الـمدينه کښې د حفظ کولو سعادت هم حاصل کړو-

آؤ سنّت کا فیضان پاؤ گے تم ديني ماحول ميں کر لو تم اعتکاف

ان شاءَ اللّٰہ جنّت ميں جاؤ گے تم ديني ماحول ميں کر لو تم اعتکاف

(وسائل بخشش، ص 644، 645)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د ملا د تير د هډوکي د درد نه نجات

د کراچۍ د ډيفنس وِيو علاقې اوسيدونکے د دعوتِ اِسلامي د يو مبلغ د ماما زوي څوک چې د مِل مالِک هم دے، د انفرادي کوشش په برکت د رَمَضَانُ المُبَارَک (1425ھ) په مياشت کښې د دعوتِ اِسلامي د لاندې په کيدونکي د سُنَّتو ډکه اجتماعي سُنَّت اعتکاف کښې د کښيناستو د پاره تيار شو- هغوئي د ډيرې مودې نه د ملا د تير د هډوکي په سخت درد کښې اخته وو، ډيرو ډاکټرانو ته يې وښودلو او د هغوئي تجويز کړے شوې دواياني يې هم استعمال کړې خو ټيک نۀ شو- هغوئي په انديښنه کښې وو چې د لسو ورځو په اعتکاف کښې به څنګه کښيني! خير هغوئي به په اعتکاف کښې ديوال ته ډډه وهله او د کښيناستو کوشش به يې کولو، د فوم په ګدۍ باندې يې د سملاستو عادت وو، دلته به په چټايۍ يا درۍ غوړولو او په زمکه باندې د سُنَّت طريقې مطابق د سملاستو ترغيب ورکولے کيدلو، د هغوئي د پاره ډيره ګرانه وه- خو د دې نه علاوه ورسره بله لار هم نۀ وه- اَلْحَمْدُلِلّٰه! د يو څو ورځو د سُنَّت مطابق د سملاستو په برکت هغوئي محسوس کړه چې د ملا درد يې ډير کم شوے دے- اَلْحَمْدُلِلّٰه! د دعوتِ اِسلامي د اجتماعي سُنَّت اِعتکاف په برکت اخر د هغوئي د ملا د تير د هډوکي د درد نه نجات حاصل شو-

تم کوتڑپاکے رکھ دے گو دردِ کمر — دینی ماحول میں کرلو تم اعتکاف
پاؤگے تم سکوں ہوگا ٹھنڈا جگر — دینی ماحول میں کرلو تم اعتکاف

(وسائلِ بخشش، ص 645)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د هيپي نيو ائير شوق

د جودهپور (راجستهان، هندوستان) یو فوټو ګرافر (عمر تقریباً 28 کاله) د چا چې پهٔ 31 دسمبر د "هیپي نیو ائیر" (Happy New Year) د بے حیایۍ نه پهٔ ډکو پارټو کښې د شرکت کولو سره بے کچه شوق وو او هغوئي به دې د پاره بمبۍ ته تلل- د الله پاک کرم وشو چې د هغوئي د عاشقانِ رسول د دِیني تحریک، دعوتِ اِسلامي د طرف نه پهٔ مینځني جومات (اُدے پور، راجستهان هندوستان) کښې د رَمَضَانُ المُبَارَک (1426هـ- 2005ء) د رمضان المبارک د اخرۍ عشرې پهٔ اجتماعي سُنَّت اِعتکاف کښې د عاشقانِ رسول سره د معتکف کیدو سعادت نصیب شو- هلته د سُنَّتو نه ډکو مَدَني حلقو، ښکلو بیانونو او ژړیدونکو دعاګانو پهٔ هغوئي ډیر اثر وکړو، هغوئي د خپلو تیرو ګناهونو نه توبه کړه، د فوټو ګرافۍ کار یې پریښودو او پهٔ پابندۍ سره یې د مسلمانانو د سحر د نمونځ د پاره راپاخول شروع کړل-

رنگ رَلیاں منانے کا چَسکا مٹے
دِیني ماحول میں کرلو تم اعتکاف
رَقص کی محفلوں کی نُحوست چُھٹے
دِیني ماحول میں کرلو تم اعتکاف

(وسائلِ بخشش، ص 645)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ✿✿✿ صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## مونږ له د هجرۍ دکال خیال ساتل پکار دي

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** اے کاش چې د جنورۍ نه د نوي کال د هر کلي کولو پهٔ ځائے پهٔ مسلمانانو کښې د "اِسلامي نوي کال" یعنې د هجرۍ کال مطابق د شروع کیدونکي نوي کال د هرکلي جذبه نصیب شي- اَلْحَمْدُلِلّٰه! د هجرۍ نوے کال د محرم شریف د وړومبۍ نیټې نه شروع کیږي، که کیدے شي نو هر کال د محرم شریف پهٔ وړومبۍ نیټه خپل مینځ کښې د نوي مَدَني کال د مبارکۍ ورکولو اهتمام وکړئ-

## د عاشقانِ رسول د صحبت برکت

د بَهلوال (ضلع سرګودها، پنجاب، پاکستان) يو اِسلامي ورور د دعوتِ اِسلامي ديني ماحول ته د راتللو نه مخکښې " کلين شيو" وو، د سُنَّتو د ډک ژوند نه لرې يې په غفلتونو کښې ژوند تيرولو- د رَمَضَانُ المُبَارَک بزرګه مياشت وه، يوه ورځ په خپله کمره کښې ناست وو چې د هغوئي والد صاحب د هغوئي کشر ورور ته ووئيل: په " جامع مسجد خواجګان" کښې د دعوتِ اِسلامي لاندې د رَمَضَانُ المُبَارَک د اخرې عشرې اِجتماعي اِعتکاف کيږي- ته زر لاړ شه ګني په وړومبي صف کښې به درته ځائے نهٔ ميلاؤيږي- د هغوئي په زړهٔ کښې هم شوق پيدا شو چې زهٔ هم د عاشقانِ رسول د زيارت د پاره لاړ شم، په هٔغه ورځ يې د ماسخوتن نمونځ او تراويح هم په هٔغه جومات کښې وکړې- د تراويح نه پس د کيسټ په ذريعه د حاجي مشتاق رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه په اواز کښې دا نعت شريف ولګيدو:

## ع:"ثانی نہ کوئی میرے سوہنے نبی لجپال دا"

هغوئي له يې ډير خوند ورکړو- په دويمه ورځ بيا لاړو نو د زيارت ورځ وه ځکه هلته هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع شروع شوه- دهٔ پکښې په وړومبي ځل شرکت کولو، زړهٔ ته يې عجيبه سکون او راحت ورسيدو- په دريمه ورځ هم لاړو نو په کيسټ اجتماع کښې د مکتبة المدينه نه جاري شوے د سُنَّتو ډک بيان د ګانے باجے کی هولناکياں ولګولے شو، د بيان اوريدو نه پس په هغهٔ ويره غالبه شوه ځکه چې په هغې کښې په عام وئيل کيدونکو سندرو کښې د کفر شعرونه په ګوته کړے شوي وو- **مَعَاذَ اللّٰه!** دا هم د کفر د شعرونو د وئيلو په افت کښې راګير وو ځکه هغوئي توبه کړه او ايمان يې هم تازه کړو- په زړهٔ باندې يې يو دم ګزار خوړلے وو ځکه د نورو ورځو د پاره معتکف شو- په فيضانِ سُنَّت کښې يې د زلفو ساتلو سُنَّت او آداب ولوستل نو د زلفو ساتلو نيت يې وکړو او په 26 رَمَضَانُ المُبَارَک يې په کيدونکي د نعتونو په محفل کښې د ګيرې پريښودو نيت هم وکړو او په سلسلهٔ عاليه قادريه رضويه کښې داخل شو او د سرکار غوث اعظم شيخ عبد القادر جيلاني رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه

مُرید جوړ شو- د صلوٰة او سلام صیغې هم هغوئي هلته یادې کړې او د اعتکاف نه پهٔ واپسئ یې د 100 نه زیاتې کیسټې او T.V (چې پهٔ ځغه ورځو کښې "مَدَني چینل" نهٔ وو پهٔ نورو چینلو به عام طور د ګناهونو ډک پروګرامونه ښودلے کیدل، ځکه یې) د کور نه بهر ویستل- اَلْحَمْدُلِلّٰه! د دعوتِ اِسلامي د دیني کارونو پهٔ لحاظ سره پهٔ تنظیمي توګه د ډویژنل قافلې ذمه دار هم جوړ شو-

ڈھول باجوں کو سننے سے باز آؤ تم　　دینی ماحول میں کر لو تم اعتکاف
فلمی گانے نہ ہرگز کبھی گاؤ تم　　دینی ماحول میں کر لو تم اعتکاف

(وسائلِ بخشش، ص 645)

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! د فلمي سندرو د اوریدو او نورو ته د اورولو نه ځان بچ ساتئ، د خپل ایمان حفاظت وکړئ، ډیرې سندرې داسې دي پهٔ کومو کښې چې کفریه شعرونه وي، مهرباني وکړئ چې د مکتبة المدینه رساله "گانوں کے 35 کفریه اشعار" ضرور ولولئ-

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! ❀❀❀ صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د ملاوټ والا مَسالې کاروبار یې بند کړو

د رنچھوړ پوري روډ بهیم پوره کراچۍ یو اِسلامي ورور مخکښې داسې بے نمانځه وو چې د جُمعې نمونځ به یې هم نهٔ کولو- د خوش قِسمتۍ له وجهې هغوئي د عاشقانِ رسول د دیني تحریک، دعوتِ اِسلامي لاندې پهٔ ګلزارِ مدینه مسجد (آگره تاج کالونۍ) کښې د عاشقانِ رسول سره د رَمَضَانُ المُبَارَک (1425هـ 2004ء) د اخرئ عشرې پهٔ اجتماعي اِعتکاف کښې د کښیناستو سعادت نصیب شو- د لسو ورځو د عاشقانِ رسول صحبت د هغوئي د زړهٔ حالت بدل کړو- اَلْحَمْدُلِلّٰه! هغوئي څهٔ نا څهٔ نمونځ زده کړو او د پینځه وخته نمونځ پابندي یې شروع کړه- پهٔ سلسلهٔ عالیه قادریه رضویه کښې

داخل شو او د حضور غوثِ اعظم شیخ عبدُ القادر جیلاني رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَيۡه مُرید هم جوړ شو- د الله پاک په فضل او کرم سره د نیک اعمالو یــې داسې ذهن جوړ شو چې په 72 کښې د 63نه څه کـم یا زیاتو نیکو اعمال باندې د عمل کولو په کوشش کښې کامیاب شو- د مکـتبة الـمدینه د رسالو یـې په کثرت سره د لوستلو عادت جوړ شو او د اعتکاف یو لوئي انعام دا هم میلاؤ شو چې دۀ به چې د مرچ مسالې د سپلایی په تړول سندهـ کښې کوم کار کولو هغه یــې پرېښودو- د دۀ د مسالې په کارخانه کښې تقریباً 44 نوکرانو کار کولو، هغوئي هم ځغه کارخانه ختمه کړه، ځکه چې وخت ډېر نازک دے، په لوئي کچ د خالص مسالې د کاروبار په بازار کښې وددیدل ډېر ګران دي- اګر که په بعضې حالاتو کښې ملاوټ ظاهرول او خرڅول جائز دي خو که د ملاوټ اعتراف وکړې نو څوک به یــې اخلي! عام طور د دوکې دور دے- نن سبا د مسلمانانو د صحت پروا څوک کوي! بس دولت پـکار دے که هغه حلال وي او که **مَعَاذَ الله!** حرام- بهر حال د عاشقانِ رسول د صحبت په برکت دا د حلال رزق په حاصلولو کښې مشغول شو- اَلْحَمْدُلِلّٰه! د دعوتِ اِسلامي د دیني ماحول په برکت د اشراق، څاښت، اوابین او د تهجدو د نفلونو او ورسره ورسره په وړومبي صف کښې د پېنځه وخته نـمونځ د جَمعې سره د ادا کولو عادت یــې هم جوړ شو-

چھوڑ دو چھوڑ دو بھائی رِزقِ حرام
دِینی ماحول میں کر لو تم اعتکاف
آؤ کرنے لگو گے بہت نیک کام
دِینی ماحول میں کر لو تم اعتکاف

(وسائلِ بخشش، ص 645)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

یا ربِّ الـمصطفٰے! د هر یو مسلمان اِعتکاف قبول کړې- یا الله! د معتکِفینِ مخلِصین په برکت مونږه بے حسابه اوبخښې- یا الله! مونږ ته د دعوتِ اِسلامي په دِیني

ماحول کښې استقامت راعطا کړې- یا الله! مونږه ربښتوني عاشقِ رسول جوړ کړې- یا الله! د خوږ محبوب صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اُمّت اوبخښې-

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم


ہر گنہ سے بچا مجھ کو مولیٰ نیک خَصلت بنا مجھ کو مولیٰ

تجھ کو رمضان کا واسِطہ ہے یا خدا تجھ سے میری دعا ہے

(وسائلِ بخشش، ص 135)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

## د راروانې هفتې رساله




فیضانِ مدینه محلّه سوداګران، زړه سبزي منډۍ کراچۍ
UAN +92 21 111 25 26 92   0313-1139278
www.maktabatulmadinah.com / www.dawateislami.net
feedback@maktabatulmadinah.com / ilmia@dawateislami.net